څېړنیار حمایت الله ښاد

# سعید د خپل دیوان په منځپانګیزه او جولیزه دایره کې

# Saeed in the circle of content and form of his Dewan

**Research Assistant Hemayatullah khad**

**Abstract**

In our classic history of literature, we had excellent writer’s poets that unfortunately till now their different side of lives are unclear and, also there is no accurate information about their place and time of living and their tribe. As we said that periods of literature we had outstanding writer and poet whom wrote many books and impression(books) but we just know their names or we know about simple of their work. In classic history of Pashto literature Saeed is also one of excellent and prominent poet because of social disorders, we do not have accurate source without his Dewan to know about him.

Every literatures researcher who talk about Saeed is not able to talk without his poetry.

In this article in addition of his life we will discuss about his style, Pashto Dewan, totally form and content of his poetry, in mean while we will clear Saeed academic and literary personality.

## لنډیز

بدبختانه زموږ د کلاسیکو ادبیاتو په تاریخ کې ډېر داسې پیاوړي شاعران او لیکوالان تېر شوي چې د هغوی د ژوند ډېرې خواوې تر اوسه ناڅرګندې دي او د

ډېرو د ځای، قام، او مهال په اړه مستند معلومات نشته دی، د ادبیاتو په دغه پېر کې ډېر پیاوړي شاعران او لیکوال تېر شوي چې ډېر آثار یې لیکلي؛ خو موږ ته یې د آثارو تش نومونه راپاتې دي او یا د ځینو شاعرانو او لیکوالو د لیکنو یا شاعرۍ ځینې نمونې. سعید هم د کلاسیکو ادبیاتو په تاریخ کې یو پیاوړی او نومیالی شاعر تېر شوی؛ خو د ټولنیزو ناسمو حالاتو له امله یې موږ د ژوند له ډېرو برخو ناخبره یو. د سعید په اړه  د ده له دیوان پرته موږ بله مناسبه سرچینه نه لرو، هر ادبپوه او څېړونکی چې د سعید په باب څه وایي، د ده له شاعرۍ پرته نه شي غږېدلای.

په دې لیکنه کې به د سعید پر ژوند لیک سربېره د ده پر سبک، پښتو دیوان، د اشعارو په شکل او منځپانګې ټولیز بحث وشي او د سعید علمي او ادبي شخصیت به ترې تر یوه بریده ښه روښانه شي.

**سریزه**

د سعید زوی لیکي: ″زما د پلار دا هیله وه چې داسې شعرونه ولیکي چې راتلونکو نسلونو ته ګټه ورسوي او کله چې به د هغه کوم شعر خوښ نه شو، و به یې سوځاوه او یا به یې څېرې کړ.″

سعید د پښتنو د ښوونې او روزنې او غوره ټولنیزو اخلاقو لپاره په شعوري ډول شاعري کوله او په دې پوهېده، که چېرته پښتانه د تورتم او ناپوهۍ له جالونو څخه راووځي، په ډېرې چټکۍ سره به پرمختګ وکړي او بیا به څوک د دې توان و نه لري چې د دوی په منځو کې د ځانځانۍ کرښې کېکاږي.

سعید د پښتو او دري ژبو یو عارف، صوفي او اخلاقي شاعر و چې په شعرونو کې یې د ژوندانه بېلا بېل اړخونه رانغاړلي دي، خلکو ته د ټولیز ژوند چارې ښایي او ځوانو نسلونو ته د پند او نصیحت نارې وهي؛ نو د داسې فرهنګي او ټولنیز شخصیت پېژندنه او آثار یې زموږ اوسني نسلونه ډېر ښه هڅولی شي او په دوی کې د دغسې ادبي او فرهنګي خدمتونو ملاتړ رازېږولی شي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

د پښتو د کلاسیکو ادبیاتو په تاریخ کې پر خوشحال خان خټک سربېره ډېر پیاوړي شاعران او لیکوالان تېر شوي دي چې موږ یې له ژوند او د آثارو له

منځپانګې څخه په بشپړه توګه خبر نه یو، د دغې دورې ډېر قېمتي لعلونه تر اېرو لاندې پټ دي، چا یې لا اېرې سمې نه دي څنډلي چې ځلاوې یې ټولنه رڼا او د پښتو ژبې خوږې وړانګې یې د اولس سترګې رڼې کړي. د دې موضوع اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې موږ د پښتو د کلاسیکې دورې د یوه پیاوړي لیکوال او شاعر د دیوان له داخلي جوهره خبروي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د سعید پېژندنه، د هغه د پښتو د دیوان بېلا بېل اړخونه، د سعید دیوان خطي نسخې، د سعید د شاعرۍ سبک او په ټوله کې به د سعید د دیوان محتوایي او شکلي اړخونه روښانه شي.

## د څېړنې پوښتنې

١. سعید څوک و؟

٢. سعید د کوم پېر شاعر او لیکوال او د چا پیرو و؟

٣. د سعید د دیوان عمده مسایل او موضوعات څه دي؟

دا او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې په دې څېړنه کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي ـ توضیحي او تحلیلي مېتودونو څخه کار اخیستل شوی دی.

## د سعید د دیوان منځپانګیزه او جولیزه شننه

مخکې له دې چې د سعید د پښتو دیوان په منځپانګې او بڼې وغږېږو؛ اړینه ده چې لومړۍ د سعید بابا د ژوندانه له احوالو هم ځان خبر کړو:

**د سعید پېژندنه:** له بده مرغه د پښتو ژبې د پیاوړي لیکوال او شاعر سعید د ژوند ډېرې خواوې تر اوسه د څېړنو په تورو اوبو کې ناڅرګندې پرتې دي چې له دیوان پرته یې موږ د سپینولو او فیلټرولو بله لاره او چاره نه لرو، ځکه د سعید له دیوان پرته موږ د ده په اړه نورې سرچینې نه لرو.

د ده له دیوان او د همېش خلیل د څېړنو له مخې، سعید خټک د خوشحال د کورنۍ یو فرد و، ژوند یې تر ١١٢۴ هـ ق کال پورې یقیني دی.(٧: ١٦٣مخ)

سعید په خپل دیوان کې ځانته له سعید پرته بل نوم او تخلص نه دی غوره کړی؛ خو د ادبپوهانو او څېړونکو د سعید، بابا سعید، سعدالله خان، سعید ختک په نومونو یاد کړی دی، د ده دیوان په خپل وخت کې د بابا چوچه په نامه شهرت درلود، مگر دا چې دی څوک و؟ کله زېږېدلی و؟ او په کومه دوره کې یې ژوند کاوه، تر اوسه پورې یې د ژوند د ګڼو اړخونو په اړه پوهان او څېړونکي نه دي بریالي شوي. دکتور عارف عثمان په یوه لیکنه کې وایي چې:« ما د سعید په باب د پښتو د کلاسیکو ادبیاتو له نامتو لیکوالو پوهاند حبیبي، عبدالرؤف بېنوا، ارسلان سلیمي او نورو څخه پلټنې وکړې؛ خو د مستندو معلوماتو په راټولولو بریالی نه شوم.»( ۵: ۱۸۷ مخ)

د همدغې لیکنې په وړاندې کرښو کې د پوهاند رښتین نظر رااخلي او وایي: رښتین صاحب په دې موضوع ډېر زور اچوي چې سعید یا سعدالله خان د افضل خان ختک زوی او د خوشحال خان ختک د ادبي مکتب له پیروانو څخه دی. ( ۵: ۱۸۷ مخ)

د سعید په اړه همېش خلیل د ده د یوان په مقدمه کې دوه ډوله نظریات وړاندې کوي: د سعید د اشعارو له مخې سعید د خوشحال د کورنۍ یو شاعر بولي او وایي، د ده د ادبي مکتب لاروی دی. د دوهمې نظریې پر بنسټ چې دغه قضاوت د سعید د یوې قصیدې له مخې کوي، داسې تخمینوي چې سعید د شېرشاه سوري د دربار یو شاعر دی.

پوهاند رښتین د دغه شک له منځه وړلو لپاره یوه بېله مقاله ولیکله او هغه یې د ورمې په مجله کې چاپ کړه چې په دغه لیکنه کې استاد رښتین د همېش خلیل له لومړۍ نظریې سره همغږی کېږي او وایي چې سعید هغه سعد الله خان دی چې د خوشحال خان کړوسی او د افضل خان زوی و او یوازې شعري نوم یا تخلص یې سعید دی. پوهاند رښتین د خپلې نظریې د ثبوت لپاره څو دلیلونه هم راوړي چې زه به یې دلته په لنډ ډول راوړم:

د افضل خان په زامنو کې ټولو تاریخ لیکونکو سعدالله خان راوړی دی، حیات محمد خان په حیات افغاني په ۱۲۸۱ مخ کې وایي چې د افضل خان په زامنو کې یو سعدالله خان نومېده چې په سعیدخان مشهور و، دا روایت دا نظریه ښه قوي کوي چې دغه شاعر هماغه سعید خان یا سعدالله خان ختک دی چې د سعید نوم یې د شعري اړتیا له مخې غوره کړی دی.(۵: ۱۸۸ مخ)

سعید بابا د زده کړو په اړه هم معلومات نیمګړي دي او دا نه ده څرګنده چې له چا او چېرته به یې زده کړې کړې وي؛ خو له دیوان، فارسي او پښتو اشعارو څخه یې جوتېږي چې د وخت په دودیزو علومو پوه او پوره برلاسی و. سعید پر پښتو ژبه سربېره په فارسي او عربي ژبو کې هم پوره مطالعه او پوهه درلوده چې په فارسي ژبه کې یې بشپړ دیوان هم پرېښی دی. سعید بابا خپلو زده کړو ته یو ځای داسې نغوته کوي:

دا لږ لږ علم دانش چې زه لرم
هېڅ مدانی ده جهل څه نه لرم
په څنګ مې یاس دی ډېر خجلتونه
چې بې له یاره په زړه څه ښه لرم
(۴: ۲۴۵ مخ)

د سعید د علم او پوهې په باب همېش خلیل یو ځای وایي سعید د عربی او فارسی عالم و چې علمیت یې په شاعرانه فن کې له ورایه برېښي. ( ۳: ۳۱۹ مخ) د سعید په علم او پوهه کې هېڅ شک نشته، دی له شک پرته په پښتو، عربي او فارسي ژبو کې د پراخې مطالعې خاوند او عالم شخص و چې الهي مینې او مطالعې ته یې له هر څه ډېر ارزښت ورکاوه لکه چې وایي:

چې یې کار مطالعه د زړه کتاب شه
د کتو فراغ یې کله د کتاب شته
( ۴: ۱۵۰ مخ)

له لوړ بیت څخه څرکندېږي چې سعید له الهی مینې سره د خپل زړه مطالعه تړلې وه او د عامو کتابونو مطالعې ته یې وخت نه درلود.

د سعید د ژوند ګڼ اړخونه په تیارو کې ورک دي، په ټول دیوان کې د ده د ځای، نسب او د کور کلي په اړه هېڅ نه دي ذکر شوي؛ خو موږ یې د ځینو شعرونو له مخې د خوشحال خان همعصره ګڼلی شو. سعید په لاندېنیو شعرونو کې د خټکو او یوسفزیو تر منځه د جنګونو، د شهباز خان د ننګ، غیرت په اړه داسې وایي:

خټک خوراک شه د یوسفزیو
چې یې هم مال خوري هم یې سرونه

میرخې له ننګ د نام خبر کا
د ګوربندي شول د ننګ مړونه
یو خان شهباز بل د ننګ پګړۍ
چې یې پښتون کا په نام فخرونه
(۴: ۲۸۱ مخ)

که پورتنیو بیتونو ته ځیر شو، د خټکو او یوسفزو ترمنځ ډېر جنګونه زموږ سترګو ته دروي، د خټکو او یوسفزیو ترمنځ ډېر جنګونه شوي چې ډېر ځله به کامراني د خټکو په برخه وه. سعید همدغه جنګونه لیدلي او بیا یې د نظم په ژبه کښلي دي؛ نو ویلای شو چې پر دې بنسټ سعید د خوشحال همعصره او د هغه د کورنۍ نږدې غړی دی.

پورته قطعې او د پوهاند رښتین نظر ته که ځیر شو، موږ ته ځینې پوښتنې راپیدا کوي، رښتین سعید د افضل خان زوی ګڼي او وایي چې دا سعید هماغه سعدالله خان د افضل خان زوی دی او د خوشحال کړوسی دی؛ خو که موږ د خوشحال ژوند ته نظر وکړو، خوشحال په ۱۰۲۲ هـ. ق کال زېږېدلی دی، په اتلس کلنۍ (۱۰۴۰)کې یې واده کړی، لومړی زوی یې چې اکبر نومېده، وفات شوی، ورپسې اشرف خان هجري په (۱۰۴۴هـ. ق) کال پیدا شوی. اشرف خان هجري لا بلوغ ته نه و رسېدلی چې نیکه یې شهباز خان په ۱۰۵۰هـ. ق کې وفات شو، یعنې اشرف خان خټک په دغه عمر کې واده نه و کړی، همدارنګه افضل خان په ۱۰۷۵ هـ. ق کال زوکړی دی، بیا به افضل خان څومره وخت وروسته واده کړی وي چې له هغه به یې زوی سعید پیدا شوی وي؛ نو که سعید د افضل خان خټک زوی وګڼو، نو په دې یقیني یو چې په دغه مهال شهباز خان له دنیا رحلت کړی او پر ځای یې خوشحال خان د خپلې سیمې او قام سردار او خان دی؛ خو که پورتنۍ قطعې ته ځیر شو، سعید د شهباز خان یادونه داسې کړې، ګوندې سعید د خپلو سترګو لیدلی حالت بیانوي چې بیا موږ د سعید په اړه په تیارو کې پرېږدي. له بلې خوا که موږ وواېو چې سعید د خپل غور نیکه یادونه وروسته کړې، نو بیا خو له شهباز خان څخه خوشحال خان خپله هم ښه خان، زړور جنګیالی، شاعر او د خپل قام مشر و؛ نو ولې یې د هغه د کارنامو یادونه او ستاینه نه ده کړې.

په هر حال، له لاندېنیو بیتونو څخه یې د خوشحال خان او د هغه له اولادونو سره ژورې او نږدې اړیکې ښې څرګندېږي او د دغو اړیکو او نورو څرګندونو پر بنسټ ویلای شو، ښایي سعید د خوشحال خان وراره او یا یې د کورنۍ بل نږدې غړی وي. سعید بابا د خوشحال کورنۍ ته دومره نږدې پاتې شوی و چې د خوشحال او عبدالقادر خان خټک په خوی بوی او طبیعت باندې پوه و، خان روښانه زړه او د ښه طبعې خاوند و او همدارنګه به د عبدالقادر خان حلوا ډېره خوښېده چې سعید یې داسې یادونه کړې ده:

د حلوا خبیص لړ دی
پخونی هم اکل
نان پزان اکل یې ډېر وي
دا پټ نه دی له عاقل
دلته یو عبدالقادر دی
د خبیص حلوا مایل
شریکان وو که اوس دي
په دا اکل کې داخل
خان دویم څوک اسماعیل وه
رسا طبع روشن دل
(۴: ۲۸۷ مخ)

له بده مرغه د سعید د پیدایښت او مړینې نېټه د ده له دیوان څخه هم نه ده څرګنده؛ د ده له ډېرو شعرونو جوتېږي چې تر سپینن ږیرتوب پورې ژوندی و چې عمر یې تر ۷۰ کلونو پورې یقیني دی او ښایي چې له دې وروسته به هم ژوندی و:

قریب شه عمر مې اویا کلونه
زړه مې له بدو ګوره چې ستون نه شو
(۴: ۲۸٦ مخ)

که موږ د سعید په اړه څومره پلټنه وکړو؛ نو دې پایلې ته رسېږو چې سعید د خوشحال خان خټک همعصره پیاوړی شاعر او لیکوال تېر شوی چې موږه یې د ژوند په اړه له بشپړو او کره معلوماتو څخه عاجز یو.

**د سعید آثار او ادبي لار:** سعید ته د ده دیوان د عینکو له مخې اړینه ده چې له لارې او سبک یې هم خبر شو، هر شاعر او لیکوال د خپل شعر او خپلې لیکنې لپاره ځانته لیکلاره او تګلاره لري؛ خو د ځینو شاعرانو او لیکوالو په اشعارو او لیکنو کې شکلي او موضوعي ورته والی ډېر لیدل کېږي او په زیاتره مواردو کې یو شاعر د بل شاعر د افکارو او خیالاتو پیروي کوي او خپل اشعار یې د بل شاعر د سبک په پیروي وایي او د شاعر د سبک له شکلي خوا یا موضوعي، معنوي او بدیعي ښکلاوو او داسې نورو اړخونو څخه اغېزمنېږي او په خپل شعر او لیکنه کې یې دې ډول اړیکو ته ځای ورکړی وي چې کېدای شي د دغه ډول اشعارو او لیکنو اړیکې د کورنۍ او چاپېریال یا استادۍ او شاګردۍ او د شخصي تمایل او داسې نورو ملحوظاتو پر بنسټ منځته راغلي وي. (٦: ١٠٢ مخ) که څه هم زموږ موضوع د سعید د سبک او لارې پېژندنه نه ده؛ خو دلته یې یوه لنډه یادونه اړینه ګڼم:

لومړی شخص چې سعید یې د خوشحال د ادبي مکتب پیرو وګاڼه، هغه ستر څېړونکی او خوشحال پېژندونکی دوست محمد کامل مومند و چې سعید یې د خوشحال د سبک لاروی وباله چې ورپسې ډېرو څېړونکو دغه لار ونیوه او د کامل مومند پر پل لاړل.

د پښتو ژبې نوموتی لیکوال او څېړونکی زلمی هېوادمل د سعید د سبک په اړه لیکي: «د دې دیوان پر غزلو او ځینو قصیدو د خوشحال د سبک اغېزې او اثرات لیدل کېږي؛ دا سړی هم د دې کورنۍ په غړو او د خوشحال د سبک په پیروانو کې درولای شو.» ( ٧: ١٦٣مخ) استاد هېوادمل یې د ثبوت لپاره د سعید هغه بیت راوړی چې د شهبازخان یادونه په کې شوې ده. پر استاد هېوادمل سربېره پوهاند صدیق الله رښتین، څېړنپوه سید محي الدین هاشمي، عارف عثمان او یو شمېر نورو لیکوالو او څېړونکو د یوې څلوریزې له مخې سعید د خوشحال د سبک پیرو او د کورنۍ نږدې شخص ګڼلی دی.

که موږ د سعید پښتو دیوان وپلټو، نو د خوشحال خان او ختکو له کورنۍ څخه پرته په کې د نورو شاعرانو او قبیلو ذکر نه دی شوی، ده په دیوان کې د خان او د هغه له کورنۍ پرته د بل چا یادونه نه ده کړې، نو د ده په دیوان کې د راغلو بېلګو له مخې ویلای شو چې سعید د خوشحال په کورنۍ پورې اړه درلوه او د هغه

(خوشحال) د زامنو په څېر و، د دغې ادبي لارې پیرو او د زمانې په لحاظ د هغوی هم مهالی دی، ځکه سعید د خوشحال خان او ځینو نورو شاعرانو شعرونه لوستي و او پوره ترې اغېزمن هم و؛ نو ځکه یې موږ د خوشحال په کورنۍ پورې تړو او د خان د ادبي مکتب لاروی یې ګڼو. د دې خبرې د اثبات لپاره دا لاندې څلوریزه راوړم:

خان که اطلس د اشعارو ودلی دی
د یو دریو رونو توکی هم ښکلی دی
لږ په دیوان د سعید نظر کړه
په ریسمان د شړۍ ګنډلی دی
(۴: ۲۵۳ مخ)

له لوړې څلوریزې څخه څرګندېږي چې سعید د خوشحال د زمانې شاعر او لیکوال و، همدارنګه یې په دوهمه مسره کې د درې ورونو یادونه هم کړې ده. همېش خلیل دغه درې ورونه اشرف خان هجري، عبدالقادر خان او سکندر خان ښودلي دي چې هغه مهال له خوشحال وروسته د نوم او شهرت خاوندان وو. هېره دې نه وي د دوی تر څنګ صدر خان او ګوهر خان هم د خوشحال د کورنۍ ښه شاعران وو؛ خو په پښتو ادب کې لوړ مقام لومړنیو درې ورونو ته حاصل دی، نو ویلای شو چې سعید د خوشحال له اشعارو پوره اغېزمن دی؛ د خوشحال شعرونو ته د اطلس او خپلو شعرونو ته د شړۍ له تشبیه یې ښکاري چې د خوشحال شاعرانه قوت او لوړوالي ته لومړیتوب ورکوي او د خپلې لارې اظهار هم کوي. که د سعید دیوان ولټول شي، له خوشحال سره د نږدیوالي ډېرې نمونې به په کې راڅرګندې شي، زه یې دلته یوه کوچنۍ بېلګه راوړم چې د سعید لاره او سبک ترې څرګندېدای شي.

خوشحال د ننګ په اړه وایي:

دنیا واړه نام و ننګ دی
که دا نه وي جهان ږنګ دی
(۲: ۲۱٦ مخ)

سعید خټک د خوشحال په څېر د ننګ په اړه وایي:

څو چې وتلی د ننګ و نام نه یې
خطا له تا دی له مرد امېد
(۴: ۲۳۵مخ)

## د سعید په اشعارو کې د فورم او منځپانګې شننه

د سعید نظم که نثر دی هر دواړه
عنا دل به يې د زړونو ګوشواره کا
(۴: ۲۹۳ مخ)

له لوړ بيت څخه جوتېږي چې سعيد د پښتو ادب د کلاسيکې يا منځنۍ دورې پياوړی شاعر او ليکوال و چې موږ ته يې يوازې اوس د پښتو ژبې چاپي ديوان او د فارسي ژبې ناچاپ ديوان راپاتې دی، ښايي د نثر په برخه کې يې هم آثار ليکلي وي؛ خو د زمانې د تاړاکونو له امله ترې موږ اوس بې برخې يو.

مخکې له دې چې د سعيد د اشعارو فورمونه وشنو، اړينه برېښي چې د ديوان په اړه يې هم لږه رڼا واچوو: د سعيد د ديوان د قلمي نسخو په اړه ما د اړوندو ډېرو ځايونو فهرستونه وپلټل؛ بدبختانه په دغو ټولو مشهور کتابتونونو کې يې د خطي نسخې کوم څرک نه ليدل کېږي. د خطي نسخو په دغو لاندې فهرستونو کې د سعيد د ديوان خطي نسخه نشته دی: بلومهارت فهرست، د مکيزي فهرست، د رښتين فهرست، د پښتو ۱۰۸ قلمي نسخې، د حبيب الله رفيع فهرست، د هند د کتابتون فهرست، د روسيې د کتابتون فهرست، د ارشيف فهرست، د حنيف خليل فهرست، د هېوادمل د چور شوي کتابتون فهرست، فهرست مخطوطات او د علومو اکاډمي فهرست.

د سعيد اوسنی چاپ شوی ديوان د يوې قلمي نسخې له مخې ترتيب شوی چې هغه هم همېش خليل د دارالعلوم رفيع الاسلام بلا مانړۍ پېښور مهتمم صاحبزاده سيد فضل صمداني څخه تر لاسه کړې ده. همېش خليل د دغې قلمي نسخې په اړه وايي: « دا نسخه دوه برخې ده، وړمبۍ برخه يې فارسي او دوهمه برخه د پښتو ده، د فارسي ټولې ورقې يو سل يو اويا(۱۷۱) او د پښتو صرف اتيا دي چې دا موجوده ديوان ترې مرتب شوی دی. (۴: مقدمه (ټ) مخ)

د سعيد ديوان د دې قلمي نسخې ترڅنګ زموږ ځوان څېړونکي عبدالرحمن حبيب زوی د خطي نسخو د څېړنو په بهير کې د سعيد د ديوان قلمي نسخه په اسلام اباد کې موندلې چې داسې يې راپېژني:

لیکوال: سعید، د خطاطۍ کال: نامعلوم، خطاط: نامعلوم، خط: نستعلیق، کاغذ: هندي، د مخونو شمېر: ۳۱۴ ، د هر مخ کرښې: ۱۷، پوښ: څرمن، د کتابخانې نمبر: ۹۴۳۱.

د دیوان په ځانګړنو کې يې زیاتوي چې دا دیوان په فارسي او پښتو اشعار لري، پیل يې چې ۷۵ مخه دی، ټول فارسي اشعار او په حاشیو کې ځینې پښتو شعرونه لري. همدارنګه د فارسي اشعارو په منځ کې یو یو مخ پښتو شعر هم تر سترګو کېږي؛ خو بشپړ پښتو اشعار يې ۱٦۵ مخه کېږي چې خپله خطاط ورته په سور رنګ له ۱ تر ۱٦۵ پورې په انګلیسـي شمېرې ورکړي او فارسي برخه يې بیا هېڅ شمېرې نه لري. شعرونه يې د سور رنګ جدولونو په منځ کې لیکل شوي دي. ( ۱: ۲۷۲ مخ)

د سعید د پښتو او فارسي دیوانونو خطي نسخو پرتلنې ته که ځیر شو، د دواړو ترمنځ جوت توپیر لیدل کېږي. همېش خلیل چې د سعید د دیوان خطي نسخه په پېښور کې راپیدا کړې، د پښتو شعرونو مخونه ۸۰ ښيي چې د فارسي د اشعارو په پرتله کم دي؛ خو عبدالرحمن حبیب زوی چې د سعید د دیوان خطي نسخه لیدلې او تشریح کړې، د سعید پښتو شعرونه په کې تر فارسي شعرونو ډېر راښيي؛ نو ویلای شو چې د سعید اوسنی پښتو چاپ دیوان د مخونو له مخې نېمګړی ښکاري، که د سعید د پښتو دیوان د دغو دوو قلمي نسخو له مخې ترتیب او اماده شي؛ له یوې خوا به د ژبې او ادب د مینه والو تنده خړوبه کړي او له بلې خوا به مو د متن څېړنې د میتودولوژۍ له مخې بشپړ دیوان ترتیب او چاپ کړی وي.

اوسنی چاپ شوی دیوان يې چې د همېش خلیل په سریزه او زیار ترتیب شوی، لومړی وار ۱۹۵۸ زېږدیز کال او دوهم ځل په ۱۹٦۴ زېږدیز کال د دارالتصنیف بابوحیدر له خوا په پېښور کې په ۳۰۸ مخونو کې چاپ او خپور شوی دی، اوسمهال درېیم ځل هم چاپ شوی، خو زه يې په اړه معلومات نه لرم. زه يې دوهم چاپ په لاس کې لرم چې (۱۹۲) غزلې، شپږ قصیدې، (۲۷۱) څلوریزې او (۳۲) قطعې لري. د دیوان لومړۍ برخه يې په غزلو پیل شوې چې ځای ځای په کې قصیدې هم سر راښکاره کوي او ورپسې د څلوریزو او قطعو برخې راځي. د قطعو په برخه کې شپږ غزلې هم راغلې دي. د سعید دیوان که د نورو خطي نسخو له مخې ترتیب شي، ښايي د شعرونو د شمېر په باب يې شکونه په سیند لاهو کړي.

دا چې په پورتنیو توضیحاتو کې د سعید د ژوند، دیوان او د اشعارو د شکل او بڼې په اړه څه نا څه پوهه شو، اوس به یې د دیوان له جواهرو هم ځان خبر کړو چې د سعید دیوان منځپانګه په ځان کې څه رانغاړي؟

سعید د خپل وخت او دور یو پیاوړی او نومیالی شاعر دی، په شعرونو کې یې د ټولنیز ژوند بېلابېل مسایل شته چې په یوه مقاله کې د هغه د اشعارو ټوله منځپانګه پېژندنه او شننه سمندر په کوزه کې ځایول دي چې دا یو ناشونی کار دی او د دې مقالې له حوصلې وتلې خبره ده. زه یې دلته د بېلګې په توګه د اشعارو ځینې لویې او مهمې برخې، لکه: ستاینې، غندنې او نیوکې، اخلاقي ښوونیز او روزنیز مسایل، دیني، تصوفي او عرفاني مسایل، د مینې سوز او ګداز شعرونه له بېلګو او لنډو څرګندونو سره وړاندې کوم:

سعید په خپلو اشعارو کې د ژوندانه بېلا بېل اړخونه روښانه کړي دي، خو اخلاقي، دیني او تربیوي موضوعات یې د شاعرۍ د منځپانګې زړی جوړوي. د دیوان په سریزه کې د شاعرۍ په باب همېش خلیل داسې کښلي: «هسې خو د سعید خټک په دیوان کې د عشقیه شاعرۍ نه علاوه صوفیانه او چرته قومي شعرونه هم شته، ولې په مجموعي حیثیت د سعید په شاعرۍ اخلاقي اثر زیات غالب دی.» (۴: مقدمه(ش) مخ)

په هر حال موږ به لومړی د منځپانګې له مخې د سعید په دیوان کې په راغلو مهمو موضوعاتو او مسایلو رڼا واچوو او هره برخه به یې په لنډ ډول د بېلګو په راوړلو سره وشنو.

**ستاینې، غندنې او نیوکې:** که چېرته د یوه کس مدح او ستاینه د هغه د علم، پوهې، شاعرۍ، لیکوالۍ، ښو اخلاقو او خدمتونو په نظر کې نیولو سره وشي او هغه په ښه نوم یاد شي، دې ته ستاینه وايي. ستاینه په دوه ډوله ده چې یوه برخه یې د افرادو ده او بله برخه یې داسې ستاینه ده چې د شخص تر سرلیک لاندې نه راځي او هغه ته د الله (ج) ستاینه وايي. سعید چې یو مذهبي او دینداره شخص و، د ده په دیوان کې الهي مینه او د الله(ج) د ستاینې ډېرې بېلګې شته او پر دې موضوعاتو یې دیوان بډایه دی چې دلته به یو څو بېلګې راوړم:

که رهبر نه وي د خلق ستا صفات
رسېدل نه و د هیچا ستا تر ذات

معرفت چې یې د تا په تا حاصل شه
هم هغو وته جلوه شول ستا آیات
(۴: ۳۵مخ)

همدارنگه بل ځای د الله(ج) ستاینه دا رنگه کړې:

ته قادر په قدرونو یې مطلق
تحت و فوق له تا موندلی دی رونق
نه جدار نه یې ستون چې پرې قایم دی
په خپل امر دې اسمان کړه معلق
( ۴: ۸۴ مخ)

د افرادو د ستاینې په برخه کې سعید د مشخص شخص ستاینه او یادونه نه ده کړې؛ خو په عام مفهوم یې لایق او د کارې خلک ستایلي او یو باهمته کس ته یې له سلو کسو زیات ارزښت ورکړی، لکه چې وایي:

تر یوه قابل زرگونه ناکس ځار شه
خدایي د یو لایق هرگز په سله نه کا
(۴: ۲۵ مخ)

غندنو او نیوکو هم د سعید دیوان ته ښکلا ورکړې ده، خو د سعید نیوکې ټولنیزې دي، له دغو ټولنیزو نیوکو څخه یې موخه د اخرت او هاغې دنیا ښه ژوند دی. د سعید نیوکې او غندنې د انسانیت، اخلاقو او انساني کردارونو د روزنې لپاره دي چې دلته به یې په یوه بېلگه بسنه وکړو:

د سړي په نام سړی نه سړی کېږي
څو جوهر یې تمام نه وي د انسان
چې په زیان د عقبا سود د دنیا اخلي
له هغو سړیو ډېر ښه دي سگان
(۴: ۱۱۹ مخ)

اخلاقي، ټولنیز، ښوونیز او روزنیز مسایل: ښوونیز شعرونه هغه دي چې د پنځوونکي موخه په کې نورو ته د اخلاقو او غوره دیني، مذهبي، عرفاني او نورو علومو او فنونو ور زده کول وي، په ښوونیزو او روزنیزو شعرونو کې ډېر وخت شاعران

خلک د ښوونې لاسته راوړنې او پرې عمل کولو ته تشویقوي، کله چې یو کس په ښوونې عمل وکړي، تربیه هم په کې راپیداکېږي، په ټوله کې په اخلاقي شعرونو کې د شاعر موخه نورو ته د ښو اخلاقو او غوره خصوصیاتو ښوونه وي.

سعید په ټولنه کې د ښوونې او روزنې پلوی و چې په دې اړه یې زوی د دیوان په مقدمه کې داسې لیکلي: « زما پلار دا هیله درلوده چې داسې اشعار ولیکي چې راتلونکو نسلونو ته ګټه ورسوي.» له دغې وینا څخه څرګندېږي چې سعید به په شعوري ډول د پښتنو د ښې روزنې لپاره ډېر داسې شعرونه ویلي وي. د سعید دیوان له داسې شعرونو څخه مالامال دی چې دلته به یې یو څو بېلګې راواخلو. د ښو اخلاقو په باب داسې وایي:

په بد خوی به دې دوستان دشمن د ځان کا
سر به خپل تر تا دشمن په احسان ځار کا
د هر چا سره دې نیت خواږه باید وي
ګڼې ژبه دې په دا کار کې په کار کا
ته ترخه له ژبې واخله عقد له لاسو
چې سرونه دې په سر خلک نثار کا
د اهن په جذب ګوره مقناطیس ته
خوږ الفاظ په زړو د خلکو هسې چار کا
(۴: ۳مخ)

بل ځای د ټولنیزو اخلاقو په باب داسې وایي:

که جوهر د عقل هر چاته موجود وی
په دانش به مشهور نه و لقمان
د سړي په نام سړی نه سړی کېږي
څو جوهر یې تمام نه وي د انسان
چې په زیان د عقبی سود د دنیا اخلي
هغو سړیو ډېر ښه دي سګان
(۴: ۱۱۹مخ)

سعید د دنیا ټولې چارې فاني ګڼلې، تل یې په خپلو شعرونو کې د خلکو ټولنیز ژوند ته پام کړی او له یو بل سره یې ښېګڼو ته رابللي، هغوی ته یې نړی د راتلونکي

ژوند یوه کرونده پېژندلې او د ښو اخلاقو او اعمالو او کمینې درسونه یې ورښودلي. دلته په ټولیزه توګه پښتنو ته وعظ و نصیحت کوي:

په زړه حواس واعضاء سلیم اوسه
مه د چا دوست شه مه یې غلیم اوسه
متوجه شه درست و خپل خدای ته
همېش جویا د ناز و نعیم اوسه
(۴: ۲۲۵ مخ)

ارزومند دی ډېر عام د دست بوسو
دغه لاس چې د محتاج سره مدد کا
(۴: ۲٦مخ)

که فاخر غواړې لباس پرهیز پیشه کړه
تر دا ښه په جهان نشته بل قماش
(۴: ٦۵مخ)

له هغو په جهان مه غواړه نادان نور
دل بسته چې په مالونو په اولاد شول
(۴: ۹۹ مخ)

**دیني او عرفاني افکار:** دیني او عرفاني افکار او شعرونه هغه دي چې د الله تعالی توحید، د دین د بزرګانو احوال او اقوال، ژوند پېښې، عبرتناکې کیسې او په دین او مذهب پورې نور تړلي مسایل په کې شامل وي. سعید سني مسلمان او د امام اعظم(رح) د مذهب پیرو و، د ده په دیوان کې دیني برخه هم ډېره راغلې ده او د دیني او مذهبي موضوعاتو بیان ته یې ځانګړې پاملرنه کړې ده. دلته یې د ټولو بېلګو راوړل ناممکن دي؛ خو د اسلام د دین په اړه یو څو بېلګو ته به یې تم شو:

چې مې ولیدو قرآن عالي جناب
را معلوم یې شه په فیض د ایمان باب
هر هر حرف یې بېشک عروة الوثقی دی
چه په دید یې د تحقیق ګورې طلاب

د اسلام د دین تفوق په نورو دا دی
چې د ده شه په ادیان کې انتخاب
(۴: ۳۲ مخ)

دا چې سعید په خپله یو دیني او مذهبي شخص و او په دې لاره کې د امام عظم (رح) د مذهب لاروی هم و، په لاندې بیتونو کې د اسلام د سپېڅلي دین په اړه داسې وایي:

که دې رسي ورته لاس په رسوخ نیسه
د امام اعظم لړ کلک کا په یدین
چې د دین په زیان یې خوښ د دنیا سود کړ
شرمنده دی په عالم کې په دارین
(۴: ۱۱۷ مخ)

د سعید په دیوان کې تصوفي او عرفاني شعرونه هم شته، د ده له شعرونو څرګندېږي چې نوموړی په یوې روحاني کورنۍ کې زېږېدلی دی او د وخت په جوماتونو او مدرسو کې یې زده کړې کړي دي چې په شعرونو کې یې عرفاني او تصوفي رنګ هم ډېر غالب دی. تصوف د نفس د پاکولو طریقې ته وایي، له نفساني غوښتنو څخه د ځان ژغورلو او د الهي اخلاقو اختیارولو ته وایي، د تصوف په واسطه زړه تزکیه کېږي او د الله تعالی او بنده ترمنځ اړیکه پیدا کېږي.

عارف پوه، هوښیار او د الله تعالی پېژندونکي ته وایي.د سعید په دیوان کې د عرفان او تصوف بېلګې شته چې دلته به یې یو څو راواخلو: په دغو لاندې بېلګو کې سعید یو عارف او خدای پېژندونکی دی او هغه څوک الله(ج) ته نږدې ګڼي چې له شیطاني وسوسو پاک او الهي مینه کې غرق وي:

چې دې خلک د نفس هوا له لاسه واخلي
د زړه مخ به نور له نورو په معبود کا
(۴: ۴ مخ)

چې یو ځل مطالعه مخ د جانان کا
څرنګ بیا نظر په ځان یا په جهان کا

همګي مغلوب د وهم دا عالم دی
چه په لید به د جهان لید د سبحان کا
(۴ : ۲٦ مخ)

همدارنګه په لاندې بېت کې يې هم د عرفان جلوې له ورايه ښکاري او هغه څوک عارف او خدای پېژندونکی ګڼي، کله چې له ټولې دنيا څخه ځان راټول کړي، نو هله به د يو الله(ج) نور او پلوشې د هغه په زړه کې ځای ونيسي او له زړه څخه به يې د تورتم پردې لرې شي:

چې يې زړه له کاينات نه پاکيزه شو
د توحيد نور يې په زړه کې جلوه ګر کا
(۴: ۲۹ مخ)

لکه څرنګه چې صوفي د نفس د پاکوالي په واسطه زړه صفا کوي او له الله (ج) سره يې اړيکې ټينګېږي، سعيد هم د صوفيت دې برخې ته ځير شوی او د صوفي جوړېدو لپاره يې د نفساني خواهشاتو پرېښودل اړين ګڼلي دي، له لاندې بېلګو څخه ښه پوهېدای شو:

که هوس د ننداره د عجب سير ده
له هوا نه کا زړه پاک هم له هوس
(۴: ٦۳ مخ)

چې د مينې شلغه بله شي په زړه کې
واړه سيزي د هوا هوس خاشاک
( ۴ : ۸۸ مخ)

له فاني دنيا هغو يوړې ښادۍ
چې په زېرمه همېشه د هغه زاد شول
( ۴: ۱۰۰ مخ)

د يار حسن په ديدو د يار ليده شي
ننداره يې هغه څه کا چې بې ديد شه
(۴: ۱۲۷ مخ)

هغه وخت چې ستا جمال په جلوه راشي
خپل معبود به دې حيران په ننداړو شي
چې له ځان له جهان ونيســي نظر خپل
دغه پسته به يې ديد ستا د کتو شي
(۴: ۱۵٦ مخ)

عارفان باده پرست په دا سبب شول
چې د يار د مخ جلوهويني په جام کې
(۴: ۲۷٦ مخ)

د سعيد مينه د يوه صوفي او عارف مينه وه، د ده ځينو پورتنيو بيتونو ته که ځير شو، د خوشحال د دغه لاندې بيت ښه شرحه وړاندې کوي او د وحدت الوجود د فلسفي نظريه ترې له ورايه څرګندېږي:

په هر څه کې ننداره د هغه مخ کړم
چې له ډېرې پيدايه ناپديد شو

**د مينې سوز او ګداز انګازې:** د سعيد په ديوان کې د عشقي شعرونو بېلګې هم پيدا کېږي. عشقي شعرونه هغو شعرونو ته وايي چې د انسان د احساساتو او عواطفو بيانوونکي او څرګندوی وي، دغه احساسات خامخا د انسان د مينې او محبت، دوستۍ، رنځونو او کړاوونو څخه متأثر يا اغېزمن شوی وي. د سعيد د حقيقي عشق او مينې په اړه پورته بحث وشو، دلته يې د مجازي عشق هغه بېلګې راوړم چې ځای ځای يې د خپلې معشوقې په ستاينه کې کښلي دي:

چې باڼه يې په زړه عين کار د خنجر کا
قدمونه يې په زړو سير په لير کا
چې د يار د خط و خال نقش يې په زړه وي
د نجات په قيامت ښکاره محضـر کا
(۴: ۷ مخ)

که باڼه له سترګو واخلې لږ په لور مې
د مجنون غوندې به پاتې شي دا کور مې
په يوسف پسې يعقوب سپينې کړې سترګې

لا په تا پسې سپین نه دي د دید تور مې
زه د تا لپاره بېل له ننگ و نام شوم
د جهان خلک دې واړه کا پېغور مې
څه عجب به په کې ښکلي مخ جلوه وه
که د زړه په مخ غبار نه وي دا نور مې
شور انگیز مخ راښکاره کړه تر پلو لړ
چې له خلک مې غوړ کاڼه کا د زړه شور مې
(۴ : ۱۱۵ مخ)

په لاندې غزل کې سعید د خپلې معشوقې ستاینه په ځومره ښه انداز کوي چې موږ ترې د ده عشقي شاعري ښه درک کولای شو:

څه عجب په شیوه تله کا ښیوه گره
د عالم زړونه یې یوړه له نظره
له سرشک یې خلک په لارې آب پاشي کا
د مینو زړه یې قوت دی له جگړه
تمام حسن یې لا نغښتی په پلو دی
د فانوس غوندې یې نور ځي له څادره
د دلبرو صفت ډېر شي په جهان کې
ځوک به نه وي په زړه وړه له تا ماهره
(۴: ۱۲۵ مخ)

د معشوقې په اړه یې دا څلوریزه هم د یادونې وړ ده:

چې یې په لوري د چا نظر شي
وینې اوبه یې تمام جگر شي
و خپل مشتاق ته چې التفات کا
باڼه یې هر یو په زړه خنجر شي
(۴: ۲۱۲ مخ)

د سعید دیوان د محتوا له اړخه ډېر مضامین درلودل چې پورته پرې بحث وشو. د شکلي(جولیز) جوړښت له مخې د سعید دیوان په غزلو، قصیدو، څلوریزو او قطعو

کې رانغاړل شوی دی چې دلته یې یوازې دغه یادونه بس گڼم او له بېلگو راوړلو یې تېرېږم.

## پایله

سعید چا د شېر شاه سوري معاصر بللی، چا د افضل خان زوی سعد الله خان گڼلی...؛ خو د هغه د دیوان له مطالعې څخه معلومېږي چې پورته یادې څرگندونې ټولې ناسمې او په حواسیاتو بنا دي، بلکې واقعیت دا دی چې د خوشحال خان ختک د کورنۍ غړی دی، یا یې وراره او یا کوم نږدې خپلوان دی او د ژوند زمانه یې د خوشحال او په ځانگړي ډول د هغه له زامنو (اشرف خان، عبدالقادر خان او سکندر خان) سره برابره ده.

سعید د پښتو ژبې په کلاسیکه دوره کې د پښتو او فارسي ژبو پیاوړی شاعر او لیکوال تېر شوی، هغه د خوشحال خان د سبک پیاوړی شاعر و او همدارنگه د خان د کورنۍ نږدې غړی و. په آثارو کې یې د پښتو چاپ او فارسي ژبې ناچاپ دیوانونه راپاتې دي، د ده له شاعرۍ جوتېږي چې په پښتو نثر کې یې هم آثار پرېښي؛ خو د زمانې په تیارو کې تر ننه ورک دي.

سعید د غزل، قصیدې، څلوریزې او قطعې په چوکاټونو کې د ژوندانه بېلا بېل مسایل او موضوعات وړاندې کړي چې اخلاقي، دیني، تربیوي، تصوفي، عرفاني او عشقي برخې په کې تر نورو برخو ډېرې لیدل کېږي.

## مأخذونه


۱ـ حبیب زوی، عبدالرحمن. د گنج بخش د کتابخانې پښتو مخطوطات (تحقیقي او تنقیدي جایزه)، ناچاپ، پېښور اکیډیمي: ۲۰۲۰م کال.

۲ـ ختک، خوشحال خان. د خوشحال خان ختک کلیات، د عبدالقیوم مشواڼي په اوډنه، سمونه او وییپانگه، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۷ ل.

۳ـ خلیل، همېش. د پښتو شعري ادب، ډائریکټر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي: پېښور، ۲۰۰۸م کال.

۴ـ سعید، دیوان سعید، د همېش خلیل په زیار، دارالتصنیف بابا حیدر: پېښور، ۱۹۶۳م کال.

۵ـ عثمان، عارف. خوشحال خان خټک او د ده ادبي مکتب، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳٦۱ ل.
٦ـ قیومي، عبدالشکور. په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونو د تاریخي پرمختیایي بهیر څېړنه ( ناچاپه علمي ـ څېړنیزه پروژه)، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۷ ل.
۷ـ هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۹۹۳ ل کال.